عزیز نایبي

۲۰۲۳/۰۷/۱۱

# زرکلنه هینداره

د یوې برابرې ببعي موټر د موندلو په لټه کې وم، پیدا مې کړ خو زموږ د اوسېدو له سیمې څخه ډیر لرې. سهار وختي پسې له کوره ووتم. د بس، مترو او رېل له اوه ساعته مزله وروسته، د موټر کیلیاني لاس ته راغلې. (جي.پي.اس) مې ولګاوه چې تر کوره د بېرته تلو لار راوښیي، نقشې ته ځېر شوم چې کاته مې، له موټرپلورنځي څخه د یو نالیدلي سویدني ملګري د هستوګنې تر ځایه پورې لاره، دومره لرې نه وه. خبر مې ورکړ چې ورروان یم، په ورین تندي یې زما ورتګ ومانه. ورغلم، پروفیسو داکتر »ک.ی.شارپانتیه» مې د لومړي ځل لپاره له نېږدې څخه ولید. د اوږده سفر له وجې پوره ستومانه وم، خو د هغه خوږ او ګټور مجلس له ما څخه ستړیا هېره کړه.




«ک.ی.شارپانتیه» یو مشهور لیکوال او لرغونپوه دی. له تقاعد وړاندې یې د خبریالۍ او استادۍ دندې هم تر سره کړي دي. کابل پوهنتون کې یې کابو یو کال د افغانستان د (خُلم) ولسوالۍ او ځینو نورو سیمو په اړه تحقیقي کار کړی دی. کور یې یو کوچني کتابتون او موزیم ته ورته و چې د نړۍ د ځینو هیوادونو تاریخي اثار پکې موجود وو؛ یوه زیاته برخه یې په افغانستان پورې اړه درلوده. له هغې ډلې څخه ما هلته د افغانستان یو داسې تاریخي اثر ولید، چې د هغه په وینا لرغونتوب یې له زرو کلونو څخه اوړي؛ دا په غزني کې جوړه شوې، وړه ګردوړې اوسپنه وه چې هغه هینداره بلله، ما ته یې د جوړیدو موده ۹۳۰م کال یاد کړ.
یو بل برنجي لوښی یې هم راوښود چې نېږدې ۶۰۰ کاله لرغونی و، ویل یې چې په اندخوی یا د هغه په شاوخوا سیمو کې جوړ شوی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په دیوال پورې یو ځړېدلی خنجر یې د پخواني نورستان (کافرستان) د زمانې وباله. کله چې زه د خنجر لیدو ته ځیر وم، هغه وپوښتلم:
پوهېږې چې د خنجر پر لاستي باندې کښل شوې لنډې کرښې څه مانا لري؟
ما وېل نه، نه پوهېږم.
وېل د خنجر د لاستي په وروستۍ برخه کې، کښل شوې هره لنډه کرښه د انسان له تن څخه د سر د غوڅېدو نښه ده، په دیوال د ځوړند خنجر پر لاستي باندې اته کرښې وې، یعنې د اتو انسانانو سرونه پرې غوڅ کړای شوي وو. د کافرستان د خلکو د خوړو لوښو او ځینو نورو څېزونو هر یو ځان، ځان ته کیسې درلودې.
د کتابونو په الماری کې یې له کابله راوړې هغه کوچنۍ لوحه هم ایښې وه چې هلته یې په شهرنو کې د کور پر دروازې نصب وه. نکل یې کاوه چې د کابل په پُل خشتي جومات کې مسلمان شوی دی او په وینا یې تر ننه پورې په خپلې کړې پرېکړې ولاړ او خوښ دی. په دري ژبه لږ، لږ پوهېده. له ظاهرشاه نېولې تر داکتر نجیب الله پورې د افغانستان د سیاسي زعامتونو ټول مشران یې له نېږدې لیدلي وو او ځینو سره یې ښې ناستې ولاړې هم درلودې.
پروفیسور داکتر «ک.ی.شارپانتیه» د ژوند ۷۵ رنګین پسرلي تېر کړي دي، له ۴۰ زیات کتابونه یې لیکلي دي، چې یو څو یکې د افغانستان او د دې هېواد د خلکو په اړه دي. ما ته یې روغتیایي وضیعت هغومره ښه ښکاره نه شو، په ملا او چهاربند کې یې له درد څخه شکایت درلود، اسانه پر لار نه شو تللی. څو کاله وړاندې یې مېرمن مړه شوې وه، احساسېده چې د هغې بېلتون دی ډېر کړاوه. ویل یې اولادونه یې نورو ملکونو کې ژوند کوي او څو خواږه لمسیان هم لري.
له ټولو روغتیایي ستونزو او یواځېتوب سره، سره یې ډېر لوړ مورال درلود او وېل چې خپلې اړتیاوې او ستونزې په خپله حلوي او د چا مرستې ته اړتیا نه لري، دا یې هم ووېل چې غواړي د ژوند تر پایه پورې په خپل اوسني کور کې ژوند وکړي، د کار میز یې تر ټولو زیات د خوښې وړ ځای معلومېده .
زما په لېدلو خوشاله و، کله چې ترې رخصتېدم، په افغاني دود یې له ماسره چسپه او له احساساتو ډکه مخه ښه وکړه. په ډېر کم وخت کې مې له هغه څخه د خاطراتو یو لوی پنډ ووړ. وخت کم او مزل اوږد و، د موټر د تېلو ټانکۍ مې له تیلو ډکه کړه چې ابله یې د شپې ناوخته بېرته تر خپل کوره پورې راورسولم.

ستاکلهم، سویډن

۲۰۲۳/۷/۹




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ